مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د گل جان صابر ژباړه ۲۰۲۲/۰۱/۲۴

خان او بېوزله سړی

و نه و یو هوښیار بې وزله سړی و.هغه یو زوی لرلو. بېوزله سړي یوه ورځ خپل زوی ته وویل:
- هېڅ وخت له کم عقلو سره ملګري مه کوه. هېڅ وخت د داسي چا څخه پیسي په پور مه اخله چې نوی شتمن شوی وي. هېڅ وخت خپلې مېرمني ته خپل پټ راز مه وایه.
زوی ډېر وخت د پلار په مشورو کې فکر وکړ او په پای کې یې پرېکړه وکړه چې د هغه هوښیاري وآزمویي.
هغه د یوه کم عقل سره ملګرتیا پیل کړه. د یو داسي سړي څخه یې پیسي په پور واخیستي چې په دې وروستیو کې شتمن شوی و. د مېرمني څخه یې په پټه کې یو پسه حلال کړ، په وینو ککړ کالي یې کور ته راوړل او مېرمني ته یې وویل:
- دا وینې پرېمینځه. ما پرون یو سړی ووژلو. ګوره، چې په دې برخه کې هېچا ته څه و نه وایې.
ښځې هغه ته وویل:
- دا ته څه وایې! زه به چا ته ووایم؟ تا لکه چې زه تر اوسه پورې نه یم پېژندلې؟
څو ورځې تېرې شوې. د بېوزله سړي زوی قصداً د خپلې ښځې سره شخړه وکړه. هغه سمدلاسه خان ته ورغله او هغه ته یې وویل چې د دې خاوند سړی وژلی دی.
خان محکمه دایره کړه او وژونکی یې را وغوښت.
محکمې ته په لاره کې د بېوزله سړي زوی خپل کم عقل ملګري ته ورغی او هغه ته یې وویل چې د ده شاهد شي. کم عقل ملګری پوهېده چې د ده په کالیو وینه د انسان نه بلکه د پسه وه، خو د احتیاط له مخې هغه له دې څخه منکر شو چې شاهدي ورکړي نو ځکه یې وویل:
- زه هلته نه شم تللی، کار لرم.
د بېوزله سړي زوی روان شو. په لاره کې هغه سړی مخې ته ورغی چې په دې وروستیو وختو کې شتمن شوی و او ده پیسي په پور ځنې اخیستي وې.هغه د خپل پوروړي څخه پوښتنه وکړه:
- ته چېرې ځې؟
د بېوزله سړي زوی ده ته کیسه وکړه چې چېرې ځي. پور ورکوونکی وارخطا شو او ویې ویل:
- پوهېږې ګرانه، زما پور به خامخا راکوې.
د بېوزله سړي زوی خان ته د محاکمې له پاره راغی. خان ته یې ټوله رښتینې کیسه وکړه. خان د هغه په خبرو باور وکړ او ویې بښلو.
«خان له ځان سره فکر وکړ او ووېرېد: دا خلک زما څخه هوښیار دي. که نا څاپه دا بېوزله سړی وغواړي چې په خپله خان شي؟»
خان پرېکړه وکړه چې دا هوښیار سړی او د هغه زوی له منځه یوسي. هغه امر وکړ چې ژور څاه وکیني، بېوزله سړی او د هغه زوی په هغه کې ور واچوي.
ډېر کلونه تېر شول، هغه چا چې هوښیار بېوزله سړی پېژاند پخوا یې له یاده ایستلی و.
په دې ترڅ کې خان د بد مرغی سره مخامخ شو. د هغه په ستوني کې هډوکی بند شو او هېچا نه شو را ایستلی.
د خان وزیرانو هغه ته وویل:
- خانه، تا ولې هغه هوښیار سړی او د هغه زوی په څاه کې واچول؟ هغوی به ستا درمل کړي و.
خان ځواب ورکړ:
- کېدای شي چې هغوی تر اوسه پورې ژوندي وي؟ ورشی او هغوی راولی!
وزیران څاه ته ورغلل. هوښیار بېوزله او د هغه زوی ژوندي وو. کله یې چې دوی په څاه کې ورغورځول د بېوزله سره یوه توبره کورت وو او دې کورتو هغوی د لوږې له مرګ څخه ژغورلي وو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بېوزله سړي چې د خان غوښتنه واورېدله نو د هغه وزيرانو ته يې وويل:
- خان ته وواياست چې موږ هغه ته نه ورځو ځکه چې موږ يې بېګناه په څاه کې بنديان کړي يو.
وزيران خان ته راغلل او د بېوزله سړي ځواب يې ور ته وويلو.
خان داسې احساس وکړ چې مړ کېږي نو ځکه يې وويل:
- هغوی د زما سره مرسته وکړي زه وعده کوم چې خپله ټوله شتمني او خپل تخت به دوی ته ورکړم.
بېوزله او د هغه زوی خان ته راغلل. خان له هغوی څخه ښښنه وغوښته او ورته ويې ويل چې مرسته ورسره وکړي.
بېوزله وويل:
- خانه، ستا درملنه تا ته په ډېره لوړه بيه تمامېږي. ته بايد خپل يوازينی زوی حلال کړې.
خان ډېر وخت له دې خبرې سره موافقه ونه کړه خو وزيرانو له هغه څخه غوښتنه وکړه چې دا قرباني ورکړي نو ځکه يې په پای کې دا خبره ومنله.
د خان زوی يې راوست، لاس او پښې يې ور وتړل او تېره چاړه يې هم تياره کړه.
ناروغ خان په ډېره وېره دې تياري نيولو ته کتل.
بېوزله چاړه په لاس کې ونيوله او ويې ويل:
بايد دلته يو وړين لمځی وځړول شي چې د خان زوی پټ کړي او که نه کېدای شی چې خان مړ شي.
لمځی يې را وځړولو. خان ساه بنده کړه او منتظر شو. هغه ناڅاپه تر مرګ مخکې ستمېدل واورېدل. د خان له سترګو څخه اوښکې را رواني شوې. په ژړلو کې يې سلګی وکړي او په همدې وخت کې هغه هډوکی چې د ده په ستونې کې بند و تاو شو او را ووت.
خان ته يې خپل يوازينی زوی راوست او هغه حلال شوی پسه يې ور وښود چې له ده څخه يې پټ برابر کړی و.
خان په خپله خبر ودرېد. خپله شتمني او تخت يې هوښيار بېوزله سړي ته ورکړل.

د قزاقستان د خلکو کيسه
د ګل جان صابر ژباړه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ